# د غني خان په شاعرۍ کښې د خير او شر تصور

# The Concept of ‘Good’ and ‘Evil’ in Ghani Khan’s Poetry

Faisal Rehman (Faran) ⋆

**Abstract:**

‘Good’ and ‘Evil’ have remained a dichotomy in philosophy, religion, psychology and ethics for centuries. Both the terms are perceived as dualistic antagonistic opposites to each other and the human race has devoted centuries of their intellectual labor to evaluate both the terms.

The modern philosophical questions in connection of ‘good’ and ‘evil’ are studies under three major areas: i) ‘meta-ethics’ (concerning the nature of ‘good’ and ‘evil’), ii) (normative ethics discussing how we ought to behave), and iii) applied ethics (concerning particular moral issues).

‘Good’ and ‘evil’ has remained a principal theme in the poetry of Ghani Khan. He has introduced new terms and has coined new meanings to discuss the ‘good’ and the ‘evil’ using his poetic imaginations, contastivistic power and narration. This research article is an attempt to elaborate the concept of ‘good’ and ‘evil’ in the poetry of Khan Abdul Ghani Khan.

**Keywords:** Good, Evil, Good and Evil, Philosophy, Religion, Ethics, Dualism, meta-ethics, normative ethics, applied ethics, Ghani Khan, Khan Abdul Ghani Khan, Poetry, Pashto Poetry

⋆ PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar

د خېر او شر تصورات چې څومره زيات منلي دي او زيات اوربدونکي تعقلات دي، دومره دا خپلو تعلاقاتو کښې پېچلي او د تضاد نه رغ شوي دي ـ بلکې د خېر تصور د شر او د شر تصور د خېر نه پرته کول ممکنه هم نۀ دي ـ خپله د خېر تصور هم يو ډول معمه ده او دا اضافي قدر ښکاري ـ ځينې وخت يو خېر د بل د پاره د شر سوب ؤګرځي او ځينې وخت په ښکاره خېر معلومېدونکے عمل شر وي ـ فلسفې کښې خېر نه مطلب کومه عقلي اراده يا په تعقل ولاړه موخه وي يا کوم معروضي قدر وي يا يو داسې څۀ چې په عامه او عمومي توګه باندې ښۀ منلے او ګڼلے کېږي ـ يا هغه څۀ خېر وي چې د خپل فطرت غوښتنې پوره کوي ـ څۀ ته چې "خېر نفسهي" ( Intrinsic goodness) وائي هغې نه مطلب هغه څۀ وي چې د افاديت يا د کومې ګټې نه پرته ئې "ذاتهي" غوښتنه ممکنه وي او دغسې څۀ ته چې "داخلي خېر" وئيلے شي دا د يو څۀ داسې صفت وي چې د دې څۀ د غوښتنې بنياد ؤګرځي.[1]

د اسلامي پوهانو د فکر له مخه خېر او شر دواړه خدائے پاک پېدا کړې دي او د توحيد د عقيدې کوم يو ويشت وضاحتونه د شقونو په صورت باندې شوي دي. هغې کښې اعتقاد اووم شق دے ـ مولانا محمد ادريس کاندهلوي ليکي،

> "حق تعالي د خېر او شر دواړو خالق دے ـ هغه د خېر نه رضا او د شر نه نارضا دے ـ رڼا او تيارۀ، اچه والے او پليتوالے، فرښتې او شېطانان، ښۀ او بد دواړه هم هغۀ پېدا کړي خو په شر نا خوښ او په خېر خوښ دے"[2]

خو عقل سليم وائي چې داسې نۀ شي کېدے ـ خدائے تعالي شر نۀ دے پېدا کړے ـ شر خو د هغه واک د اختيار د غلطې پکارونې پائيله ده کوم چې بنيادم ته په توګه د يو عقل لرونکي مخلوق د خدائے پاک له رويه سپارلے شوے دے او هم دا هغه امانت دے چې په زمکه آسمان کښې بل يو مخلوق نشو زغملے او د قران شريف د تمثيل مطابق غرونو تربنه هم انکار کړے ؤ ـ دغسې ښۀ او بد (تقوي، فجور) په بنيادم باندې د ضمير په صورت الهام شوې دي او فېصله په دۀ پرېښودے شوې چې

کومه لاره خپلوي دا ئې خپله خوښه ده خو چې هر لاره خپلوي نتيجه به ئې خامخا ارومرو هم هغسې مومي نو هم دغه وجه ده چې غني خان د يو مفکر شاعر په توګه ښېخي دا نۀ مني چې شر خدا ے پاک پېدا کړے او ددې شر خپلولو په سوب بنيادم ازل کښې ګناهګار ليکلے شوے دے او د خېر او شر يو سکرپټ شوې ډرامې د پاره د کائنات د لوے ستېج جوړ کړے شوے دے ـ غني خان د فالهمها فجورها وتقواها غوندې وائي چې ګناه او ثواب ښۀ او بد تعمير او تخريب زما دننه دے ـ ما ته د راکړې هغه اختيار د لاندې دے کوم چې د عقل سره جواز لري نو ځکه نظم "ګوګل" کښې هغه داسې وائي

دې ګوګل کښې چې دننه
دا هم لاره هم کاروان دے
پروت په دې کښې ټول داستان دے
خور په دې کښې لوے جهان دے
دا هم باغ دے هم خزان دے
دې کښې سرۀ نيازبين ګلونه
دا هم زهر هم زقوم دے
دا هم تور د مرګ څادر دے
دۀ کښې پروت داسې شراب دي
به بدمسته او سر شاره
دے چې ځي په بره درومي
چې په بدو باندې راشي
عجيبه دې يم جوړ کړے

هم دنيا ده هم قيامت
هم تدبير دے هم قسمت
د جزا او د سزا
د وصال او د وفا
هم بلبل دے هم بهار دے
او د شنو اوبو شرار
هم ګبين دے هم نبات
هم چينه ده د حيات
چې يو څاڅکے د هغې
کړي هغه فرښتې واړه
شي جبريل ورته حېران
امان ۀغواړي شېطان
اے زما خدايه عجيبه
د همه يم مرکبه

بې د تا نه نور د هر ځۀ دومره لوے لکه
دا د اور او نور درياب آسمان
دومره ړوکے لکه ښاڅکے دومره لنډ لکه يو آن[3]

دلته د زقوم تلميح هم ځکه د غور وړ ده چې د سورۃ الدخان د يو آيت له رويه به دوزخيان زقوم خوري ـ دغسې جنت کښې به د ګبين ولې وي ـ بله دا چې د جنت يو خاصيت دا هم الدخان سورت کښې راغلے چې دلته به مرګ نۀ وي دلته هم سينه کښې يعنې زړۀ کښې د ژوند او مرګ خبره شوې ده او هم د تدبير او تقدير خبره شوې ده ـ نو مطلب دا چې شاعر د ګناه و ثواب مروجه تصور نۀ مني او په دلته موضوع ګرځوي ځکه نظم "ګوډاګي" کښې وائي

زما ويره جنت او جومات زما
زما هوش سر سرور مناجات زما
منارې د ګرجې کښې زما پستي
دا د مرګ نه بچ کوم زۀ ژوندون هسې
او د شرابو جام د زمزم چشمه
دا د ځان د نيولو يو دام زما
دا جنون جانان دا مرشد کعبه
د خپل هوش نشه کولو يو جام زما
ګوډاګي ما جوړ کړي خپل ځان له دي
سرۀ لبان د يار عبادت سرور
ما بندونه اچولي طوفان له دي[4]

دغسې بل نظم "نقاب" کښې هم مروجه مذهبونه مسترد کوي او دا د هغې سوال و جواب هڅه ګڼي د کوم سوال چې له سره جواب نشته

چې چاپېره نظرم ؤکړم همه پټ او ښکاره زۀ يم
دا شراب دي ما جوړ کړي ما جوړ کړے دے محراب

## مذهب څۀ دے څو رسمونه مسئلې او منطقونه
## او د هغې سوال جواب دے چې ئې نشته دے جواب[5]

دا خېر او د شر دا قضيه مانوي مذهب کښې د ثنويت په حواله راغلې ده او د هغې نه نور مذهبونه هم په تعبير او تفسير کښې متاثره شوې دي ـ نو غوره به وي چې په دې حواله لږ سپيناوے وُشي ـ د دې مفکورې له رويه دوه عالمونه د خېر او شر دي ـ د خېر عالم د نور دے چې درې اړخه لويديځ، ختيځ، سوېل لري او يو اړخ ورسره د شر د تيارۀ عالم لګېدلے دے ـ د خېر د عالم واکمن ملک جنان النور (زروان) دے چې پينځۀ صفتونه علم، حلم، عقل، غېب، او فطانت لري ـ
ابليس يا د تيار عالم واکمن د رڼا په عالم يرغل جوړ کړو نو د ده مقابلې د پاره ملک جنان النور يو الوهي هستي چې انسان القديم نومېږي تخليق کړه چې د اور، اوبۀ، رڼا او ايتهر (نسيم) نه مرکبه وه ـ ابليس چې د مقابلې زغم وُنۀ لرلو نو دا ئې لوارۀ تېره کړه ـ د دې پائيله وه چې کائنات هم دې پينځۀ توکيو نه تخليق شو چې په کښې د شر امېزش دے نو امن سره فساد، سکون سره حرکت، رڼا سره تيارۀ او خېر سره شر وي۔ د انسان القديم نه پس ته يو بله هستي بان اعظم (ژوندۍ اروا) ملک جنان النور پېدا کړه چې هغه ابليس پسې د تيارو ملک (تاترين) ته لاړ او پينځۀ توکي ضياب، ابريق، سموم اوظلمت ئې مونډ کښې اووهل خو کائنات خو د ابليس د ذرياتو د جسمونو نه جوړ کړے شوے نو د هغې د بېرته ترلاسه کولو د پاره هم چاره پکار وه نو هغې د پاره ملک جنان النور يو پېغمبر (رسول ثالث) راؤلېږلو۔ ښځو هغۀ د يو ځوان په صورت ليدو او سړيو ته هغه ځوانه ښځه ښکاره شۀ۔ نو دواړو په جذباتو کښې راتللو باندې جسمونو نه دغه پاتې نور وُباسل شروع کړۀ چې دې سره د دوي جسمونو نه تياره (ګناه) هم راؤتله۔ دغه رڼا نه پېغمبر لمر سپوږمۍ ستورې روښانه کړل او ګناه څۀ په زمکه څۀ په سمندر پرېوته۔ پرېوتې ګناه نه وُنې بوټې او ځناوران پېدا شو ـ ابليس چې پوهه شو چې داسې خو به هغه ټوله رڼا له لاسه ورکړي نو د دې مخنيوي له پاره ئې آدم جوړ کړو۔ هغه ټوله رڼا ئې په کښې هم تيارۀ سره ورګډه کړه کومه چې تر

اوسه هغۀ سره وه۔ ځکه آدم کښې د خېر او شر دواړو ګنجائش دے ، خو اصلاً البته دا یو ابلیسي تخلیق دے ۔ آدم د دې مسئلې نه خبرولو د پاره یو بله نوراني هستي یسوع نوراني راغلو. آدم ئې خپل اصل نه خبر کړو. بیا ئې د څلورو بولو نه ورته په دوه ښېو ادرولو چل ؤښودلو او د ژوند بوټے یې ورباندې ؤڅښکلو.[6]

وړاندې ذکر شوي نظم "ګوګل" کښې غني خان هم دغه تفکر لري چې په توګه د بنیادم د خېر او شر دواړو سرچینه ښودلے شوے دے او هم دغسې نظم "ګني دنیا ښۀ ده" کښې هم هغه خېر او شر ښائست او بدرنګتیا اضافي اقدار ښائي . د ښائست او خېر مادي تعین د نسبت په بنیاد باندې کوي چې چا له شراب او چا له حلوا چا له محل او چا له ببدیا چا له سود او چا له سودا چا له ساز او چا له دعا ښه ده. دلته خېر په نسبت باندې ښودل ښائي چې هغه خېر معروضي قدر مني.

د بې غمۍ لړ خوب لړه خندا ښه ده
نېټه ئې لنډه ده ګنی دنیا ښه ده
څوک وائي هاغه ښه ده څوک وائي دا ښه ده
ما له زما ښه ده او تا له ستا ښه ده
چا له ژړا ښه ده چا له خندا ښه ده
زړۀ د مجنون له خپله لیلا ښه ده
زړۀ د ملا له توده حلوا ښه ده
چا له مستي ښه ده چاله سودا ښه ده
چاله محل ښه دے چا له ببدیا ښه ده
دنیا هغه ښه ده که دنیا دا ښه ده
چا له هغه ښه ده او چا له دا ښه ده
ژوندي ته ساز ښه دے مړ ته دعا ښه ده
بنیا له سود ښه دے ما له سودا ښه ده
د ملا عقل له خلۀ د ملا ښه ده

زما کوتک له ملا د لالا ښه ده
مزدور وائي ځان ته خبره دا ښه ده
ما له ټپېر ښه دي تا له حلوا ښه ده
د جرمن توپه ښه ده، د صبېب قلا ښه ده
زمور ټټو ښه دے د پنډت غوا ښه ده
خبره ښه د ګاندهي خولۀ د جناح ښه ده
چاله هغه ښه ده او چا له دا ښه ده
ما له زما ښه ده او تا له ستا ښه ده
نېټه يې لنډه ده ګني دنيا ښه ده[7]

هم دغسې يو بل نظم "پېدائش" کښې هم خبر او ښائست خودکرده او خودساخته تصورات ګڼي. او ژوند د امید رڼا سره ړ تيارۀ او ښېرې نه هم په ثنويت اډانه راښائي.

او ما ځان له غم که په خپله جوړ
د خندا نه د خوشحالۍ نه
د وصال نه د خمار نه
د بهار نه لولکۍ نه
او ما له ژوند که په خپله جوړ
د امید نه د رڼا نه
د تيارو نه د ښېرو نه
د غمونو نه د سودا نه
د ژوندون نه د مستۍ نه[8]

او بيا خو خصوصا نظم "اور" خو لکه چې د مانويت د دې راوړلي شوي اقتباس پوره پوره سپيناوے وي. دې کښې بنيادم د خدائے پاک جوړ کړے داسې تخليق دے چې يوه ذره په کښې د شېطان هم شامله ده. ښکاره ده يو ذره شېطانيت نه دلته مطلب د خاورين وجود جبلت دے کوم چې د حد نه وتلو باندې شر شي او ګناه جوړه کړي.

زما خته چې خوشته کړه پـه څۀ اور ئې ابته کړه
چې ئې نۀ وژنم ورتېږم چې ئې وژنم لا لمبه کړه
نور همه ئې د ځان جوړ کړم د شېطان ئې يو ذره کړه
څومره زۀ چې ورنزدې وم دومره غته ئې پرده کړه
چې جنت وته روان شوم دوزخ لرې دروازه کړه
چې دوزخ ته ورنزدې شوم چا بچے بچے نعره کړه[9]

هر څو که مذهب د خېر او شر دواړه خالق خدا ے پاک ته وائي او ايمان اعتقاداتو کښې د والقدر خېره و شره من الله تعالٰي خبره کوي، کومه چې د پوهې له مخه د خدا ے پاک شان نه لرې ده خو بلخوا تصوف دې مسئلې ته بل او بدل رنګ ورکوي۔ کومه چې په هر حال د مذهب د دې اعتقاد نه غوره د ے۔ پوهاند ډې اوليري په دې حواله باندې ليکي،

"د صوفيانو دا مفکوره چې بس يو د خدا ے پاک حقيقت حقيقت د ے نور هر څۀ واهمه دي، د خېر او شر مسئله باندې هم اغېزه کوي ـ لکه څنګه چې د يو څيز علم د هغه څيز د ضد نه کېږي لکه رڼا نه تيارۀ، وجود نه عدم دغسې بنيادم ته د خدا ے پاک علم د حقيقت او عدم حقيقت په تقابل سره کېد ے شي ـ د دې دواړو د خپلو کښې ګډون سره دا ظاهري مادي عالم پېدا شو ے د ے چې په کښې د رڼا علم هم د تيارۀ له مخه کېږي او خپله تيارۀ يواځې د رڼا د نښتوالي دوېمه نامه ده لکه وجود چې د اول علت نه د صادرېدو نتيجه ده ـ څومره څومره چې صدور زياتيږي، جوهر کمزور ے يا کم حقيقي کېږي خو دې سره بيا زيات نه زيات د ادراک جوګه کېږي ـ هم دغسې شرم کوم چې اصلاً د حقيقت د اخلاقي حسن نه محض انکار د ے بيا بيخي نوې صدور کښې غېر حقيقي معلومېږي ـ دا د صدور د اظلال نتيجه او ځکه غېر حقيقي د ے ـ يعنې د حقيقت او غېر حقيقت د ګډون پايله ده."[10]

غني خان په دې حواله د ملائيت د جبري اعتقاد خبره هم کوي چې ګناه او ثواب خير و شر لکه څنګه چې ملائيت وائي ـ د خدا ے پاک له اړخه دي او دا هر څۀ وړاندې نه بره آسمان کښې لوح محفوظ کښې ليکلې شوې دي نو بيا خير څۀ معني؟ او شر څۀ معني لري؟

دا به تۀ په کوم قانون راکوې ما له سزا
تا آسمان کښې بره ليک کړه او ما ؤکړه په دنيا
چې اختيار نۀ وي جانانه څۀ ګناه د چا ګناه
راته ښکاري ملا جان هم چرته تلے د ے خطا
که قانون وي که رواج وي که منطق که فلسفه
دا ګناه خو ا ے تقديره ټول ستا راؤخته
که اختيار وي ګناه ګار يم او که نۀ وي ګناه کوم ده
دا خو لاس د بري کار د ے تۀ په هر څۀ کښې تکړه
وايه وايه ملا جانه که اختيار راځي قسمت ځي
د قسمت سره دې واړه آرامونه او راحت ځي
د تندي ليکلي ورک شي بس سړ ے د ځان مالک شي
که په باغ کښې د آرام ځي که په لار د مصيبت ځي
بيا کېد ے شي حسابونه د جزا د ثوابونو
چې سړ ے په ښۀ په بده په خپل وس په طبيعت ځي[11]

دغه وجه ده چې د خير او شر مروجه تصورات غني خان خپله شاعرۍ کښې مسترد کوي ـ او ټول هر څۀ د انسان د خپلې هڅې او کوششونو نتيجه ګڼي لکه قران شريف هم وائي قد افلح من ذکها: چا چې تخم له وده ورکړه د هغۀ پټے سمسور شۀ، وقد خاب من دسها: چا چې تخم د کښر (بد عمل) د لاندې کړۀ د هغۀ تخم (ژوند) ورک شۀ. نو دا خبره چې د هر عمل نتيجه به يو اځې قيامت باندې راؤځي درسته نۀ ده ـ او قران شريف خو دا هم صفا صفا وائي چې د ژوند هر يو قدم ځانله يو ميزان د ے چې زمونږ

اخستلے قدم په کښې تللے کېږي او بيا د دې تللو نتيجه هغه شبېه مونږ ته ملاوېږي او د ژوند دې تګ کښې پرمختيا د هغه چا نصيب ده څوک چې د انساني نوغي د پاره ګټور وي۔ واما ما ينفع الناس فيکمث الارض د دې پرمختيا او روحاني ارتقاء مونډلو د پاره يواځې د بنيادم د ذات اصلح کېدۀ کافي نۀ دي۔ ولې انفع کېدۀ يعنې ټولو نه زيات ګټور کېدۀ ئې ضروري دي۔ ځکه قران شريف دا هم وائي چې قيامت هر ساعت موجود دے او دوزخ هره شېبه د انسان په نندارہ ولاړ دۀ ته ګوري وما هم عنها بغائبين۔ هم دغه غني خان د خېر تصور دے او هم دغه نه ئې د شر تصور هم راؤځي۔

## د شر تصور

د شر نه مطلب هغه چې تکليف کړاؤ او د نقصان ورکونکي وي يا هغه چې د يو غوره او اوچت حرام يا خوښي يا د عمومي ښېګړې مخې ته خنډ جوړېږي۔ د خېر او شر کشاله او مسئله يواځې د مذهب مسئله نۀ ده ولې فلسفه کښې هم دا د الهياتو برخه پاتې شوې۔ فلسفه کښې د شر په حواله د ابيقيوري مکتب دا الهياتي مسئله شته دے چې

> "شر يو ضد قياسي صورت دے چې په کښې درې امورونه منل دي چې صرف دوه په کښې خپله کښې متوافق وي۔ لمړے دا چې خدائے پاک مطلق قدرت لري دوېم دا چې خدائے رحم کؤنکے دے او درېم دا چې په دې دنياوي عالم کښې شر هم وجود لري۔ نو اوس که خدائے پاک شر ؤدرول غواړي ؤدرولے نۀ شي نو بيا خو هغه مطلق قدرت نۀ لري او که شر ؤدرولے شي او ؤدروي ئې نه نو بيا خو هغه رحم کؤنکي هستي نۀ ده او که هغه شر ؤدرولے شي او ؤدروي يې نو بيا خو په دې دنياوي عالم کښې د شر وجود نشته"۔[12]

يعنې خدائے پاک چې قادر مطلق دے او د کامل خېر صفت لري خو دغه قدرت او کامليت ئې د شر د شتون له کبله په پوره معنو کښې نۀ څرګندېږي او که نه د شر د نۀ

شتون په صورت د خېر تصور په ځاے باندې پاتې کېږي ـ د انسان لرغونے تاريخ که ؤکتلے شي نو د شر تصور مادي ادراک دے چې جړه ئې د افاديت سره راؤځي ـ د بنيادم د پاره همېش نه لمر، سپوږمۍ او ستوري په څۀ نا څۀ حوالو د ارزښت وړ پاتې شوې دي ـ يخو سيمو کښې د لمر تودښه، تودو سيمو کښې د سپوږمۍ يخه رڼا ، او صحراګانو کښې د ستورو په بنياد سفرونه او د وخت وېشنه دا هر څۀ داسې ؤ چې رڼا ته ئې انساني فکر کښې د خېر او تيارۀ ته د شر حېثيت ورکړه نو د نړۍ هره ديومالا او هر مذهب کښې د خېر د کموالي يا نيشتوالي له کبله مقابله کښې د شر تصور هم پېدا شۀ. او دغه تصور ورو ورو تمثيلي او اساطيري ؤګرځېدۀ ـ دې سره څۀ کردارونه هم ؤتړلے شو چې مونږ ورته د بدۍ قوتونه وايو او مشر ئې شېطان نومي زورور تخريب کار ځواک وي ـ د مصريانو ديومالا چې د تاريخ لرغونې ديومالا منلے کېږي هغې کښې هم لمر (رع/راع) د ټولو نه لوے دېوتا دے او ورته آسماني پلار وئيلے کېدۀ. هر ماښام د شېطاني شپې تيارۀ کښې راګېرېږي ـ يو شېطان ښامار اپپ سره مقابله کوي. د تيارۀ په سمندر تېرېږي او سهار بيا راؤځي. د مصر ديومالا نه هم زياتې لرغونې ديومالا بابلي ديومالا کښې هم لمر بعل د رڼا ديوتا دے چې هغه يو شېطاني اژدها تيامت سره جنګ کوي او زمکه جوړوي. د زرتشت مذهب کښې بيا د شر خداے اېنګرامېنوش نومېږي چې د خېر د خداے اهورمزد سره ئې ابدي شخړه ده. دغسې مجوسيت کښې د زمانه خداينه زروانيه ده ـ د هغې دوه برغد ځامن دي ـ اهرمن د شر او اهرمزدا د خېر ديوتا دے اهرمن په خپله چالاکۍ باندې د اهرمزدا نه وړاندې ځان پېدا کړي او په کائناتو باندې قبضه ؤکړي ـ د دې ازاله زروانيه داسې ؤکړي چې د هغۀ د دغه واکمنۍ موده نهه زره کلونه کېږدي ـ د دې مودې تمامېدو نه پس به د اهورمزدا واکمني پېل کېږي او دنيا به د خېر او امنيت نه ډکېږي ـ په دې حواله د مانوي مذهب بنيادي مفکوره ډېره عجيبه تمثيله ده ـ د ماني د فکر له مخه کائناتو کښې دوه ابدي ازلي توکي رڼا او تيارۀ دي ـ دا دواړه د خالقيت درجه لري او پينځۀ صفتونو رنګ، ذائقې، بوي، لمس او غږ لري. د کائنات د پېل نه وړاندې دا

دواړه بېل ؤ خو بيا تيارۀ دا هڅۀ ؤکړه چې دواړه يو شي نو شر د خپل وجود د پاره رڼا سره يو شۀ لکه لمر سره سيورے۔

"د کائناتو بنياد دوه قديم اصلونه دي۔ يو خدا ے او بله ماده، يعنې بې ډوله حرکت خدا ے له اصله خبر دے او مادله له اصله شر ده۔ خدا ے دغه بې ډوله حرکت د ډولي کولو د پاره يو ځواک پېدا کړو چې دا مادې سره يو شۀ۔ دې پسې يو بل ځواک پېدا شۀ چې اصلا له خدايه څخۀ ؤ او ماده کښې د يوځا ے شوي ځواک د بېلولو د پاره ئې هڅې شروع کړې کوم چې خپل مقصد و مطلب ماده کښې د ننوتلو له کبله هېر کړے دے"۔[13]

د ماني د فکر له رويه يو څيز د خپل تضاد په تعقل باندې پېژندنه لري نو شر هم خير سره لکه د لمر سيوري مثال لري۔ خو دواړه ابدي ځکه دي چې يو څيز په يو وخت باندې د دوه متضاده اپوټه خاصيتونو ښودنه نۀ شي کولے لکه د اور خاصيت تودوالے دے نو دا يخوالے نۀ شي ورکولے ځکه تيارۀ او رڼا (نور و ظلمت) دواړه خپل بېل وجودونه لري او د خپلو وجودونو په بنيادي خاصيتونو باندې څرګندېږي۔
دغسې يو ايراني پوهاند مزدک هم په دې حواله د ذکر وړ دے۔ د هغۀ د فکر له مخه،

"شر بنيادي توګه باندې د درې خويونو شک، غصې او د لالچ څخه پېدا کېږي۔ که چرې دا درې واړه ختم شي نو دنيا کښې به مساوات رامينځ ته شي او د دې د ختمېدو د پاره ضروري ده چې د ملکيت تصور ختم شي، املاک برابر شي او ؤيشلے شي نو فتنه فساد به هم پا ے ته ؤرسي"۔[14]

لکه څنګه چې وړاندې ذکر ؤشو چې شر سره د شر وجه او شر کؤنکے وجود هم ضروري دي نو مذهبونو او ديومالا کښې د شېطان د کردار مختلف صورتونه او نومونه دي خو ورسره هغه د ابيقيوري مکتب والا منلې مسئله هم راولاړېږي۔ او د مطلق قدرت او کامل خبر تصور هم سواليه نخښه ګرځي نو دا سواليه نکته په څو

څو صورته د جوابي کولو هڅه شوې ده ـ لکه مذهب وائي دنيا د خير نه عبارت دے او شر د واک د اختيار نه پيدا کيږي ـ واک خپله ازمېښت دے بله دا چې دنيا په حيث باندې د کل خير ده او شر ضمني دے ـ دا هله پيدا کيږي چې چرته خير پوره نمود ؤنۀ کړے شي نو دې کموت نه راميځ ته شي دا د تصوف مفکوره ده ـ دغسې فلسفه وائي چې شر منطقي لحاظ سره جواز لري او قدرت په منطقي لحاظ باندې څيزونو ته محدود دے ځکه د شر په وجه د خدائے پاک په مطلق قدرت هيڅ اثر نۀ پرېوځي ـ دا فکر بيا اسلامي روايت ته هم نزدې دے ـ اسلامي روايت کښې هم د سنت الله د لاتبدل خبره قران شريف کوي او سنت الله دوه برخې د فطرت او مشيئت قوانين لري ـ د فطرت قوانين مونږ مادي اشياء کښې د هغوي د ټاکلي تړلي خاصيتونو په بنياد باندې وينو ګورو محسوسو او د مشيئت قانون د تخليق د عالم سره نه د امر د عالم سره تړون لري۔ عموماً داسې کيږي چې زمونږ پوهان او شاعران د فطرت او مشيئت تر مينځه توپير نۀ کوي ـ دواړه سره خپلو کښې يو کړي او بيا دې نه راوتي تضاد باندې نيوکه کوي ـ دا نيوکه بيا په خاص توګه د قسمت په حواله باندې کيږي او شاعرۍ کښې پوره يو رجحان ګرځيدلے ـ د غني خان نظم "سزا او جزا" هم په دغه فکري صورتحال يوه غوره نمونه ده ـ

هيڅ په پته دې پوے نۀ شو د سزا او د جزا
تا ته يوه ده لويه خدايه هم خندا او هم ژړا
څوک ښائسته ځواني کړي خاؤرې په يو خال باندې مئين شي
څوک غوټه په رنګ او تال کښې په يو ټال باندې مئين شي
څوک مدهوش په حق او نور په هلال باندې مئين شي
خو
ستا سپوږمۍ هر چا ته خاندي که زهرا وي که بلا
هيڅ په پته دې پوے نۀ شو د سزا او د جزا
څوک په پټو سترګو ډوب شي سمندر کښې ده غرور

ځوک په تخت لکه فرعون ناست دے خاندي په سرور
ځوک په مزکه پوت ملنګ يادوي قصې د طور
ځوک په وينه موړ خندا نه ځوک په مينه کښې رنځور
ړوند قسمت دے فرق نه کئي د فرعون او د موسٰي
هيڅ په پته دې پوے نۀ شو د سزا او د جزا [15]

اوس دلته خبره ساده او ښکاره ده چې د دنيا د هر کار و زيار تعلق د فطرت او مادي حقيقت سره دے نو دلته چې هر ځوک د دې مطابق خوا که هغه په بده وي که په سمه لار خپل مرام حاصلوي، حاصلولے شي ـ د فطرت قانون فرعون او موسي کښې فرق نۀ کوي ـ خو د مشيت قانون دغه فرق کوي چې تعلق ئې عالم امر او ايمان بالغيب سره دے ـ هلته که نمرود د مادي حقيقت تر لاسه کولو په وجه کامياب هم شي خو د مشيئت د قانون له مخه هغه کامياب نۀ دے، مجرم دے ـ چې د خپل جرم سزا به ورته ملاوېږي ـ

د غني خان شاعرۍ کښې هم د خېر او شر تصورات د مروجه تصوراتو نه بېل او بدل دي ـ هغه وائي چې شر او خېر مطلق نۀ وي دا د يو بل سره پېوستون لري او د شر نه بغېر د خېر تصور نۀ شي کېدے ـ دا تصور بنيادي توګه باندې د مانوي فکر سره نزدې دے او ثنويت لري ـ لکه نظم "خمبيره" کښې وائي

هر خمبيره کښې يو خوا اور بل خوا اوبۀ دي
من که په کښې بد وي نو دوه منه په کښې ښۀ وي
يو خوا ته که دام دے د ښکاري اوږے نظر دے
خوا کښې ئې د مينې او وفا ګلاب پراتۀ دي
يو خوا که بهار دے سرۀ ګلونه دي مستي ده
چار چاپېره ګوره اسوېلي ساړه آهونه دي
ورکه ماشوړه ده نۀ ئې سر نۀ ئې لکه شته
ژوند که ئې منطق دے تول بحثونه ئې کاږۀ دي

بدو کښې ښۀ پټ وي او په ښو کښې رنګ د بدو
دا د خرو متل دے چې بد بد وي او ښۀ ښۀ وي
تۀ چې هر آدم د ژوند يو معيار له راولې
خاوره به ترې جوړۀ کړې خمار او رنګ به خاورې شي
ژوند يو جدا والے بدلېدۀ او خورېدۀ دي
نوې د تلو لار نوے نظر نوې ليدۀ دي[16]

دلته هغه د ژوند تضاد د ژوند د تسلسل په بنياد په ګوته کوي ـ که دغه تضاد ورک شۀ نو د يو شان والي له کبله به ژوند لکه خاورې خځله شي ـ دغه خبره لرغوني يوناني فلسفي هيراقلېطس هم کوي ـ

"د دنيا ټول موجودات يو وحدت دے دا د ټولو د پاره يو شانې ده ـ نۀ دېوتا جوړه کړې او نۀ چا بنيادم جوړه سازه کړې ده ـ دا د اوره جوړه ده له ازله به تر ابده وي او په اضدادو يو شوې د متضاده تناؤنو آهنګ لکه د غشي او ليندې او زمونږ د پاره په تضاد کښې خېر دے، ځکه خېر او شر يو دي"۔ [17]

هم دغه خبره بيا غني خان په نظم "د امکان او لامکان" کښې داسې کوي چې د دنيا هره مفکوره عقيده د بنيادم د فکر زور او انتظام دے ـ د مکان او لامکان نه راواخله د مذهب او ايمان پورې هر يو څۀ د بنيادم د خپل سوچ نتيجه ده ـ

همه رنګ دے د آدم — د آدم د زور امکان
څۀ دے کور او لامکان — ګل غلام بادشاه خزان
که جانان که بت که رب دے — زما تنده او ايمان
دا مکان او لامکان — دواړه جوړ زما له ځان
سرۀ ګلونه سپين امام — ابتداء او اختتام
ګل بچے دے د ډېران — په سپرلي کښې پټ خزان[18]

د حېرانتيا خبره دا ده چې که غني خان د خېر او شر د پاره د بادشاه او غلام حوالې

راؤړي دغسې ماني هم د شر او د خېر د پاره د خنزير او بادشاه علامتونه راؤړي ـ دواړه مفکرين دراصل مادي بنياد باندې تخريب او شر زورور ښودل غواړي ځکه چې دۀ هم دغسې دنيا کښې همېش تخريب او شر په خېر او تعمير باندي زورور پاتې شوي ـ اګر که د مشيئت له رويه خير په شر او تعمير په تخريب باندې ځواکمندي لري د غني خان د فکر له رويه خزان بادشاه دے او ګل ئې غلام دے او ماني وائي:

"رڼا او تيارۀ خپل بُن کښې له يوه بله داسې بېل او بدل دي لکه يو بادشاه او بد خنزير۔ يو شاهي ماڼۍ کښې استوګنه لري چې د دۀ شان سره سمه ده او بل ختهوګارو کښې لغړېږي، ګندونه ئې خوراکه ده"۔[19]

حقيقت هم دغه دے چې د خېر او شر تصوراتو ته هر مفکر خپل رنګ ورکړے دے او هر چرته چې د تصورات د هغۀ د ټاکلي سوچ سره سم نۀ دي راغلي نو د دې معنې ئې بدلې کړې دي او د خپل سوچ سره ورته سمونوالے راوستے دے لکه فرېډرک نطشے وائي

"هر هغه څيز چې کمزورۍ نه پېدا کېږي هغه شر دے ـ څوک چې خالق جوړېدۀ غواړي ضروري ده چې وړومبے تخريب سر ته رسوي او زاړۀ اقدار به تبې وتې بوځي داسې سخت نه سخت شر د خېر د ښۀ شکل يو توکے دے"۔[20]

د نطشے دا خبره مونږ د غني خان د نظم "شمع" له رويه هم تفهيم کولے شو چې دې نظم کښې هم د شمعې د سوزېدو تخريب چې د هغې وجود په کښې له مينځه ځي ـ محفل ته د رڼا په صورت باندې يو ګټه ورکوي او د تعميري مقصد برخه کېږي ـ

محفل له شوه رڼا شمعې له سوز او وروکېدل شو
تال د ساز ژوندون دے چې ګډېږي په سُرونو کښې
شوه يو له د ښکاري مستي د لټ د چل او دام
او چا له رنګ محل کښې پټې سترګې ړندېدل شو
شو يو له سرۀ ګلونه ماښامونه او جامونه

او بل د زرکې زوے نصیب ئې دام کښې لګېدل شو
ؤګوره انسان ته چې بادشاه د ځناورو دے
او بل ته دغه واړۀ لوړه تنده ژړېدل شو
دے د خپل وجوده له فطرته لوئیدے نۀ شي
دے که ډېر زور ؤکړي نو د خپل ځانه وتے نۀ شي[21]

غني خان دلته د پابند فطرت خبره کوي چې وړاندې د سنت الله د يوې برخې په توګه ذکر شوے دے چې تبدل نۀ مني او د علت معلول په ټاکلي تړلي اصول کښې دننه دے ـ خو بلخوا چې نوموړے فلسفي ښني ډکټ سپینوزا د خېر او شر خبره کوي نو د حقیقت سره سم دغه پابند فطرت هم د خېر او شر د پاره بنیادي پیمانه ذکر کوي ـ خو هغه هم لکه د غني خان پرېکړه کوي چې دا ابدي حقیقتونه نۀ دي ـ

"خېر او شر دواړه بد تعصبات دي او ابدي حقیقت هېڅکله هم نۀ شي کېدے ـ نو سمه دا ده چې د دنیا ابدي او غېر محدوده حقیقت دې د فطرت پوره ترجماني ؤکړي نه دا چې د بنیادم د ټاکلي تړلي مرام ي انځور دې ؤګرځي"ـ[22]

وړاندې د شر په حواله د تیارۀ د نسبت خبره شوې ده ـ دې نسبت په حواله د نامعلومه لرغوني مودې نه تور رنګ هم د بدۍ او شر نخښه ګرځېدلې راروانه ده ـ لکه تور زړے (بدنیت) تور ژبے (سپېرۀ ژبے) توري تمبې (جېلخانه) تورن، تور قانون، توره بلا ، تور مرګ، تور ټوپک، توره شپېلۍ (ټوپک)، تور (تهمت)، د غم تور لباس، تور دوزخ، توره کنده (تاترین) د غندنې تور توغ ـ نو د غني خان د ژور نظر نه دا نخښه هم نۀ ده بچ شوې او نظم "رنګونو" کښې هغه په دې حواله د خپل خیال څرګندونه داسې کوي۔ خو ورسره سپین رنګ کوم چې د مذهب د روایتي تصور له مخه د پاکۍ نخښه ده۔ هغه هم رد کوي۔ ګویا دلته هم د خېر او شر بنیادي تصورات مسترد کوي ـ

سپین سره مې نۀ لګي
سپین دے د ریا رنګ

سین دے د کفن رنګ
سپین دے د فنا رنګ
سپین دے د تګۍ دستار
سپینې د سپي سترګې دي
سپین ئې جال او سپین ئې دام
سپین دے د ملا رنګ
تور دے د شېطان لباس
توره د انکار توره
تورې د غم سترګې دي
تور دے د بلا رنګ
تورې د مرګ پنجې دي
تورې د دیو دارې دي
توره د ماتم ژړې
تور دے د ژړا رنګ [23]

## حوالې

[1]عبدالقادر، قاضي، ډاکټر، کشاف اصطلاحات فلسفه، مقتدره قومی زبان اسلام اباد، 1994ز، ص137

[2]کاندهلوی، محمد ادریس، مولانا، عقائد الاسلام، المیزان، ناشران و تاجران کتب، لاهور، 2014ز، ص 48

[3]غني خان، لټون، یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، 2005ز، مخ، 492

[4]هم دغه اثر، مخ 386

[5]هم دغه اثر، مخ 705

[6]ډار، بشیر احمد، قدیم حکماء کا فلسفه اخلاق، اداره ثقافت اسلامیه لاهور، ص207

[7]غني خان لټون، مخ 519

[8]هم دغه اثر، مخ 467

[9]هم دغه اثر، مخ 498

[10]ولی الدین، میر، قران اور تصوف، سټیبک پوائنټ کراچی، سن ندارد، ص، 217

[11]غني خان لټون، مخ 200

[12]عبدالقادر، قاضي، ډاکټر، کشاف اصطلاحات فلسفه، مقتدره، قومی زبان اسلام اباد، 1994ز، ص182

[13]ډار، بشیر احمد، حکماء قدم کا فلسفه اخلاق، اداره ثقافت اسلامیه لاهور، 1997ء، ص207

[14] جلالپوري، علی عباس، روایات تمدن قدیم، تخلیقات لاهور، 2007ز، ص، 172

[15] غني خان، لټون، مخ، 680

[16] هم دغه حواله، مخ 667

[17] یوسفزے، سالار، لېوني فکرونه، مخونه113

[18] غني خان لټون، مخ 200

[19] ډار، بشیر احمد ، حکماء قدیم کا فلسفه اخلاق، ص ۱۹۹

[20] سالار یوسفزے، لېوني فکرونه، م ۱۱۳

[21] غني خان، لټون، مخ 628

[22] سالار یوسفزے، لېوني فکرونه، م ۱۱۳

[23] غني خان، لټون، م۳۴۴

References

1 _Qazi , Abdul Qadir, Dr, kashaaf istilahaat phalsapha,muqtadira qumi zuban Islamabad,1994,p137

2_ Kandehlawi, Mohd idrees, Maulana, Aqaidul Islam,almezazn tajeran kutab Lahore,2014,p48

3_ Ghani Khan,latoon university book agency Peshawar,2005,p492

4_ ibd,p386

5_ ibd,p705

6_ DAAR, Bashir Ahmad,Qadeem hukmaa ka phalsapha iqlaaq,Idaraa saqfat E islamia Lahore,1995,p205

7_ Ghani Khan, latoon,p591

8_ibd,p467

9_ibd,p498

10_Mir,waliudin, Dr,, Qur'an aur Tsawaf, city books point Karachi,2002,p2017

11_Ghani Khan,latoon,p200

12 _Qazi , Abdul Qadir, Dr, kashaaf istilahaat phalsapha,p182

13_ DAAR, Bashir Ahmad,Qadeem hukmaa ka phalsapha iqlaaq ,p207

14_Jalalpuri, Ali Abbas,Riwaat e tamdun qadeem,Takhleeqat Lahore,2007,p172

15_Ghani Khan , latoon,p680

16_ibd ,p665

17_Yousafzai,salaar,lewani fekruna,Aaraaf printer's Peshawar,2016,p113

18_Ghani Khan, latoon, P 379

19__ DAAR, Bashir Ahmad,Qadeem hukmaa ka phalsapha iqlaaq,p199

20__Yousafzai,salaar,lewani fekruna,p113

21_Ghani Khan, latoon,p389

22_Yousafzai,salaar,lewani fekruna,p113

_23Ghani Khan, latoon,p628